يا الله! زه له تانه په دنيا او آخرت کې د سلامتيا سوال کوم، يا الله! زه له تانه په خپل دين، دنيا، کورنۍ او مال کې د بخښنې او سلامتيا سوال کوم، يا الله! زما شرمګاه - او يا شرمګاوې په پرده کې وساته، او زما وېره په امن بدله کړه، يا الله زما د مخې، زما د شا، زما د ښي اړخ، زما د چپ اړخ، زما د پاسه او د لاندې له خوا زما ساتنه وکړه، او ستا په لويۍ پناه نيسم له دې چې د لاندې له خوا ترور شم

له ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی وايي چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم به دا دعاګانې سبا او بيګا نه پرېښودلې: «اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْعَافِيَةَ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْعَفْوَ وَالْعَافِيَةَ فِي دِينِي وَدُنْيَايَ وَأَهْلِي وَمَالِي، اللَّهُمَّ اسْتُرْ عَوْرَتِي -أَوِ: عَوْرَاتِي- وَآمِنْ رَوْعَاتِي، اللَّهُمَّ احْفَظْنِي مِنْ بَيْنِ يَدَيَّ، وَمِنْ خَلْفِي، وَعَنْ يَمِينِي، وَعَنْ شِمَالِي، وَمِنْ فَوْقِي، وَأَعُوذُ بِعَظَمَتِكَ أَنْ أُغْتَالَ مِنْ تَحْتِي». «يا الله! زه له تانه په دنيا او آخرت کې د سلامتيا سوال کوم، يا الله! زه له تانه په خپل دين، دنيا، کورنۍ او مال کې د بخښنې او سلامتيا سوال کوم، يا الله! زما شرمګاه - او يا شرمګاوې په پرده کې وساته، او زما وېره په امن بدله کړه، يا الله زما د مخې، زما د شا، زما د ښي اړخ، زما د چپ اړخ، زما د پاسه او د لاندې له خوا زما ساتنه وکړه، او ستا په لويۍ پناه نيسم له دې چې د لاندې له خوا ترور شم.

[صحيح دی] [ابو داود، النسائي، ابن ماجه او احمد روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم به سبا او بيګا مهال دا دعاګانې نه پرېښودلې: (اللهم إني أسألُكَ العافيةَ) (يا الله! زه له تا څخه عافيت غواړم) له ناروغيو، مصيبتونو، دنياوي سختيو او له ديني خواهشاتو او فتنو څخه په (دنيا او آخرت) کې، هغه فتنې چې اوس شتون لري او هغه چې په راتلونکې کې به پېښيږي. (يا الله! زه له تا څخه بخښنه) او د ګناهونو له منځه وړل او له هغو تېرېدل غواړم، او له تا څخه له هر ډول نېمګړتياوو څخه (زما په دين) کې لکه: له شرک، بدعت او ګناهونو څخه، (او زما په دنيا کې) له مصيبتونو، ضررونو او شرونو څخه سلامتيا غواړم، او زما په (کورنۍ کې) چې زما ښځې، اولادونه او خپلوان دي، او (زما په مال) او عمل کې درڅخه د عافيت سوال کوم. (اللهم استرْ عَوراتي) يا الله! زما د عورتونو پرده وکړه، او هغه عيبونه او نېمګړتياوې چې په ما کې دي، او زما ګناهونه پاک کړه، (او ما له وېرې په امن کې کړه) خوف او وېره راڅخه لرې کړه. (اللهم احفظْني) يا الله! زما ساتنه وکړه، او ما له ضرر او مصيبت څخه وساته؛ هغه ضررونه چې (زما په وړاندې، زما د شا له خوا، زما له ښي اړخ څخه، زما له کيڼ اړخ څخه او زما له پورته خوا) ماته متوجه دي. نو (رسول الله صلى الله عليه وسلم) د الله تعالى څخه سوال وکړ چې له ټولو خواوو يې ساتنه وکړي؛ ځکه چې مصيبتونه او آفتونه انسان ته يوازې له همدې لارو رسيږي. (وأعوذُ بعظمتك أن أُغْتَال) او ستا په لويۍ پناه نيسم چې د لاندې له خوا ونيول شم او يا هلاک شم؛ داسې چې ځمکه مې کش کړي.


النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY


لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC
E-Da'wah Committee